# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۱مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ۱۱مه | ۵۲۸مه گڼه


## کتاب


۴ مخ

### افغانستان او سیمه ییزه همکاري




د سړې جګړې پر مهال سیمه‌ییزه همکاري د شوروي او امریکا له سیالیو څخه اغېزمنه وه او د نړۍ هېوادونه ځینې له شوروي اتحاد او ځینې نور له امریکا سره ملګري وو، خو د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره زمینه او شرایط برابر شول.

### حیدري: په ننګرهار کې د ۱۴۲ میلیونو افغانیو په لګښت د اوبو رسونې پروژې پلې کېږي



د ننګرهار کانال د څلور زره هکتاره ځمکې د خړوبېدو په موخه، د ۱۴۲ میلیونو افغانیو په لګښت د لمریزې برېښنا په وسیله د اوبو رسونې پنځه پروژې پلې کېږي.

د ننګرهار د کانال رییس انجنیر عبدالقهار حیدري ویلي چې یاد لګښت د اسیایي بانک له خوا ورکول کېږي.

هغه زیاته کړې چې دا پروژې به په راتلونکو لسو میاشتو کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي او په دوامداره توګه به په یو ساعت کې ۱۳ سوه متره مکعب اوبه ورکړي .

حیدري ویلي، د اوبو رسولو له دې پمپونو به یې درې د کانال شرکت په لومړي پمپ سټېشن کې او پاتې دوه نور به په دویم پمپ سټېشن کې نصب شي چې د څه باندې یو مېګاواټ لمریزې برېښنا په برابرېدو سره به شاوخوا څلور زره هکتاره ځمکه خړوبه او حاصلاتو ته چمتو شي .

# د امریکا پر کړنو او پلانونو نیوکې؛

## حامد کرزی: امریکا په افغانستان کې د پیاوړي حکومت د جوړېدو مخه نیولې ده



۳

- خو ګامونه چې حالت ښه کولی شي ۲ مخ
- د نوي کرونا ویروس د وقایې او کنټرول په برخه کې د چین تجربې ۲ مخ
- د افغان سولې پر وړاندې ننګونې ۳ مخ

### راپورونه: امریکا له طالبانو سره د شوي تړون په موخه د خپلو متحدینو د ملاتړ هڅې پیل کړې

د امریکا متحده ایالتونه هڅه کوي چې له طالبانو سره د کړي تړون په اړه د خپلو نړیوالو متحدینو ملاتړ جلب کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت چارواکو په همدې موخه د قطر په پلازمېنه دوحه کې د اروپایي ټولنې، برېټانیا، جرمني، فرانسې، ناروې، اېټالیا، ملګرو ملتونو او نورو خواوو سره په همدې تړاو تازه ناسته هم کړې ده. دوی د دې ناستې په پایله کې یوه ۱۴ ماده ییزه اعلامیه صادره کړې چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت پر خپله وېب پاڼه خپره کړې ده. په دې اعلامیه کې راغلي چې د دې ناستې ټولې خواوې د امریکا او طالبانو تر منځ د توافق ملاتړ او هرکلی کوي. په دې اعلامیه کې له افغانانو سره د سولې په پروسه کې د همکاریو د دوام ژمنه شوې، خو د روسیې او امریکا د ګډې اعلامیې په څېر پکې افغانستان ته د امارات له راګرځېدو سره مخالفت شوی دی.

په اعلامیه کې راغلي چې د افغانستان د سولې پروسه باید یوې جامع، دایمي او هر اړخیزې سولې ته لار پرانیزي او له سیمه ییز او نړیوال ثبات سره مرسته وکړي. په اعلامیه کې پر دې هم ټینګار شوی چې افغانستان باید بیا د نړیوالو ترهګرو پر پټنځای بدل نه شي او دا ډاډ تر لاسه شي، چې له دغه هېواده د القاعدې، داعش او نورو ډلو له خوا نړۍ ته خطر نه پېښېږي. دغو هېوادونو په دې شرط د افغانستان له راتلونکي دولت سره د سیاسي او اقتصادي مرستو د دوام او پراختیا ژمنه کړې، چې بشري حقوق، د ښځو، ځوانانو، مذهبي اقلیتونو او نورو حقونه پکې خوندي او ډاډمن وي.

### د طالب زندانیانو د خلاصون په اړه هېڅوک جعل کاري نه شي کولای



۲ مخ

### معاونین اول و دوم و نایب منشی ولسی جرگه به اکثریت اراء انتخاب گردیدند



میرزامحمد کتوازی نمایندۀ مردم پکتیکا معاون اول، عباس ابراهیم زاده نماینده مردم بلخ معاون دوم ولسی جرگه و حجت الله خردمند نماینده مردم بدخشان نیابت منشی این جرگه را کسب کردند.

محمد اشرف غنی رئیس‌جمهور کشور درهفدهم حوت سال روان پس از پایان رخصتی یک و نیم ماهۀ زمستانی، دومین اجلاس یک ساله دور هفدهم تقنینی شورای ملی کشور را افتتاح کرد.

به همین اساس در هجده هم حوت، یازده تن برای کرسی های نیابت اول، نیابت دوم، منشی و نایب منشی ولسی جرگه نامزد شدند، اما هیچ کدام آنها آرای لازم برای برنده شدن را کسب نکردند.

دیروز برای نیابت اول میان دو نامزد پیشتاز انتخابات دو روز پیش (میرزا محمد کتوازی و فوزیه ناصریار) انتخابات شد و در نتیجه کتوازی با به دست آوردن ۱۲۹ رای تائید نایب اول این جرگه شد.

همچنان دیروز برای کرسی نایب منشی، به دو نامزد پیشتاز رای گیری (حجت الله خردمند و عرفان الله عرفان) صندوق ها گذاشته شد و در نتیجه خردمند نماینده مردم بدخشان با کسب ۱۲۳ رای تایید به عنوان نایب منشی ولسی جرگه انتخاب شد.

همچنان عباس ابراهیم زاده نماینده مردم بلخ با گرفتن ۱۵۹ رای به عنوان نایب دوم این جرگه انتخابات شد.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دجمهوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریغ

### څو گامونه چې حالت ښه کولی شي

د محمد اشرف غني او ډاکټر عبدالله تر منځ لانجې او د دوو حکومتونو اعلان، د سولې لپاره د بین الافغاني خبرو په برخه کې خنډونو، د بندیانو له خوشې کولو سره د اشرف غني ستونزې، د طالبانو د دریغ سخت والي او ځینو نورو مسایلو افغانستان له یو ناوړه حالت سره مخ کړی دی. ډېری خلک وېرېدلي دي او له دې امله خپه دي چې هېواد یې له سختو ستونزو او لانجو سره مخ دی.

تر اوسه پورې دا ستونزې همداسې روانې دي، خو مهمه دا ده چې اوس پر دې فکر، بحث او کار وشي چې څه شی حالت بدلولی او کوم کارونه د حالت له ښه والي سره مرسته کوي. موږ دلته ځینې هغه مسایل یادوو چې د ستونزو له حل سره مرسته کوي، گواښونه او خطرونه را کمولی شي:

لومړی؛ اشرف غني او ډاکټر عبدالله لا هم باید د جوړجاړي او گډ حکومت لپاره تمایل، اراده او هڅې ولري. څوک قانوني ولسمشر دی او څوک نه دی، دا جلا بحث دی؛ خو اوس یو کړکېچ شته او د دې کړکیچ حل پر خبرو اترو، جوړجاړي او گډ کار سره کېږي. له همدې امله پکار ده چې د دوی تر منځ د جوړجاړي خبرې لا زیاتې جدي او کارنده شي څو دا ستونزه حل شي.

دویم؛ د سولې په اړه باید د افغان حکومت فکر او نظر بدل شي. د ارگ واکمن باید د سولې لپاره قرباني ته تیار شي. دا قرباني په خبرو کې نه، په عمل کې پکار ده. دوی باید د سولې لپاره له څوکۍ د تېرېدو واضح پیغام ورکړي. دا ناشونې ده چې پنځه کاله نور دې هم اشرف غني ولسمشر وي، خو سوله دې هم وي او طالبان دې د حزب اسلامي په شان په کابل کې وي. د سولې لپاره دا حتمي ده چې اشرف غني به واک پرېږدي او د سولې د توافقاتو لپاره باید یو بې طرفه انتقالي حکومت وي.

درېیم؛ د بندیانو د خوشې کولو په اړه باید د اشرف غني فکر او نظر بدل شي. داسې ښکاري چې په دې برخه کې بدلون راغلی دی، خو دا کافي نه دی. پکار ده چې د سولې او حسن نیت لپاره او د طالبانو او امریکا تر منځ د خبرو د پیل لپاره بندیان خلاص شي.

څلورم؛ د بین الافغاني خبرو لپاره یو غوره، ټولمنلی او ملي پلاوی وټاکل شي. په دې برخه کې د ارگ دریځ سم نه دی. لومړی خو یې د پلاوي ټاکل ځنډولي او بیا چې دوی څه ډول غواړي دا پلاوی وټاکي، دا نه طالبان مني، نه سیاستوال او نه هم د افغانستان خلک. له همدې امله پکار ده چې په واقعي مانا یو ټولمنلی او ملي پلاوی وټاکل شي چې د ټولو خلکو استازیتوب وکړلی شي.

پنځم؛ د حکومت له اړخه له دې ټولو گامونو سره سره د طالبانو په دریځ کې هم جدي بدلون ته اړتیا ده. طالبان باید بېرته د تاوتریخوالي د کمښت پړاو ته ور وگرځي. دوی باید حکومت ته تر اوسني حالت یو څه زیات ارزښت ورکړي. دغه راز باید په خپل دریځ کې له هره اړخه نرموالی راولي.

ځینو نورو کارونو ته به هم اړتیا وي، خو دا هغه گامونه دي چې حالت ښه کولی شي، د گواښ او خطر مخه نیولی شي او خلکو ته بېرته هیله ورکولی شي. له دې پرته موږ په واقعي مانا ناوړه حالت ته روان یو او لاملین یې هم د افغانستان خلکو ته معلوم دي.

# د نوي کرونا ویروس د وقایې او کنټرول په برخه کې د چین تجربې



لیکواله: غوټۍ
د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانگې خبریاله

د روغتیا نړیوال سازمان د مارچ په ۸مه خبر ورکړ چې د اروپا د منځنۍ سیمې په وخت د روانې میاشتې د ۸مې نېټې د سهار تر لسو بجو پورې له چین څخه بهر په ۱۰۱ هېوادونو کې د نوي کرونا ویروس پر ناروغۍ اخته شوي ناروغان پیدا شوي دي او په ټوله نړۍ کې د نوي کرونا ویروس پر ناروغۍ د اخته شویو کسانو شمېر له یو لک څخه اوښتی. نو دغه سازمان له ټولې نړۍ څخه وغوښتل چې د دغه ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره اغېزمن او جدي تدبیرونه ونیسي.

همدارنگه، د افغانستان د عامې روغتیا وزارت د مارچ په ۸مه خبر ورکړ چې اوس په افغانستان کې څلور کسان پر دغه ناروغۍ اخته شوي دي. ویل کېږي چې افغانستان هم د نوي کرونا ویروس د خپرېدو له گواښ سره مخ دی.

ټولو ته معلومه ده چې د نوي کرونا ویروس ناروغي لومړی په چین کې پیدا شوې، د چین حکومت پر وخت اغېزمن او جدي تدبیرونه نیولي دي. د چین له خوا نیول شوي تدبیرونه د نړۍ د بېلابېلو خواوو له خوا ستایل شوي. د دغه ویروس د وقایې او کنټرول په برخه کې د چین او د یاد سازمان د کارپوهانو گډې ډلې د فبرورۍ په ۲۴مه په بیجېنگ کې یوه گډه مطبوعاتي غونډه وکړه او د دغه سازمان کارپوهانو په دغه غونډه کې وویل، چې د چین له خوا نیول شویو تدبیرونو د دغه ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره ډېر ښه اغېز درلودلی دی، لږ تر لږه یې سلگونه زره کسان له دې ویروس څخه ژغورلي دي او په ټوله نړۍ کې د دغه ویروس د وقایې او کنټرول لپاره یې ښه زمینه برابره کړې ده. پر دې سربېره، د روغتیا نړیوال سازمان د عمومي مدیر لوړ پوړي سلاکار بروس ایلوارد څو ورځې مخکې له نیویارک ټایمز ورځپاڼې سره د مرکې په ترڅ کې په چین کې د نوي کرونا ویروس د وقایې او کنټرول د څارنې په هکله خپلې نهه ورځنۍ تجربې شریکې کړې او په کور کې د قرنطین، د ښارونو د بندولو او د ښوونځیو د بندولو په گډون جدي تدبیرونه یې وستایل.

نو د نوي کرونا ویروس د وقایې او کنټرول په برخه کې د چین تجربې څه دي؟ افغانستان ورڅخه څه پوهه او گټه تر لاسه کولی شي؟ په دې اړه لاندې څلورو برخو ته پام وکړئ: لومړی- د چین حکومت د دغه ویروس د وقایې او کنټرول کارونو ته ډېره پاملرنه کوي او له بېلابېلو خواوو او د خلکو یووالی او گډ کوښښونه له دغه ویروس سره په مبارزه کې د بریالیتوب بنسټ دی.

د چین دولت رییس شي جین پینگ د دغه ویروس له رامنځ ته کېدو وروسته، پخپله د اړوندو کارونو لارښوونه او ترتیبات کړي دي او کوي یې. د چین بېلابېلو خواوو له دغه ویروس سره په مبارزه کې د خلکو د سر او ژوند امنیت او روغتیا ساتلو ته تر هر څه لومړیتوب ورکوي. د بېلگې په ډول، د چین په هوبې ولایت کې د دغه ویروس د خپرېدو حالات تر ټولو ډېر سخت دي، په دغه ولایت کې د دغه ویروس د وقایې او کنټرول او د ناروغانو د علاج لپاره د چین له بېلابېلو ځایونو څخه کابو ۴۲۰۰۰ طبي کارکوونکي دغه ولایت ته رسېدلي او شپه او ورځ کارونه کوي. ویل کېږي چې چین د بېلابېلو خواوو د یووالي او گډو کوښښونو پر اساس په لنډمهال کې اغېزمن او جدي تدبیرونه نیولي او ښې لاسته راوړنې یې ترې تر لاسه کړې دي او په هوبې ولایت کې هره ورځ د نویو ناروغانو شمېر په ښکاره توگه کم شوی دی.

اوس دغه ویروس په ۱۰۱ هېوادونو او سیمو کې د خپرېدو په حال کې دی او په ځینو هېوادونو کې یې حالات د ژر سختېدو په حال کې دي. په تېره بیا د افغانستان په گاونډي هېواد ایران کې؛ نو د افغانستان بېلابېلې خواوې هم باید د دغه ویروس وقایې او کنټرول کارونو ته لا زیاتې پاملرنې وکړي. له ویروس سره مبارزه د یو گوند، یو قوم، یوې سیمې، یوې ادارې او حتی د یو کس پر وړاندې مبارزه نه ده. د ویروس خپرېدا ښکاره سرحد نه لري، نو د هېواد بېلابېلې خواوې، گوندونه، قومونه، ادارې او هر کس باید په دغه مبارزه کې د بریالیتوب د تر لاسه کولو لپاره هڅې وکړي. له نیکمرغه، افغان طالبانو او امریکا د فبرورۍ په ۲۹مه د جوړجاړي توافقنامه لاسلیک کړه او له مخې به یې د افغانستان بین الافغاني مذکرات پیل شي. دا یو ښه فرصت دی چې د افغانستان بېلابېلې خواوې د سیاسي توپیرونو په لرې کولو سره په گډه د خلکو د سر او ژوند د امنیت د ساتلو لپاره له دغه ویروس سره گډه مقابله وکړي، څو په لنډه موده کې په افغانستان کې د دغه ویروس د کنټرول او د لا زیاتو خلکو د ژوند د ژغورلو لپاره زمینه برابره شي.

دویم- د چین حکومت د بېلابېلو سیمو او منطقو د حالاتو له مخې بېل او اغېزمن تدبیرونه نیولي. د بېلگې په ډول، ووهان ښار چې د هوبې ولایت مرکز دی او حالات یې تر ټولو ډېر سخت دي، د چین حکومت د دغه ښار د بندولو او د ټولو ترافیکي وسایلو د نه کارولو حکم کړی دی، څو د خلکو د تگ راتگ د کمښت له لارې په لا پراخه منطقه کې د دغه ویروس د خپرېدو مخه ونیول شي. د چین د بېلابېلو کچو ادارې د مرکزي حکوم په مشرۍ د خپلو منطقو د حالاتو له مخې د اړوندو کارونو د لارښوونې لایحې جوړې کړې. بېلابېل ولایتونه، ښارونه، چارې او ادارې د خپلو حالاتو له مخې، د دغه ویروس د وقایې لارښوونې، د عادي کارونو د بیا اعاده کولو لارښوونې او د استوگنیزو سیمو لپاره د وقایې د کارونو لارښوونې طرحې، جوړې او عملي کړې دي.

د افغانستان د بېلابېلو سیمو حالات هم بېل دي، نو د دغه ویروس د وقایې او کنټرول تدبیرونه هم باید سره توپیرونه ولري. د بېلگې په ډول، په هغو منطقو کې چې پر دې ناروغۍ اخته شوي ناروغان پېژندل شوي، باید له دغو ناروغانو سره نږدې تماس نیوونکي پیدا کړای شي، باید خلکو ته په کور کې د پاتې کېدو قرنطین او پخپله د تبې څارنې وړاندیز وکړای شي. په هغو منطقو کې چې ناروغان نشته، باید له ناروغانو لرونکو سیمو سره د خلکو تگ راتگ کم کړي او هغو کسانو ته دې زیاته پاملرنه وکړي چې د ویروس د خپرېدو له سیمو او نورو هېوادونو څخه راځي. داسې کسان باید د ۱۴ ورځو لپاره په خپل کور کې قرنطین کړای شي. پر دې سربېره، د افغانستان په قلمرو کې د بېلابېلو کچو ادارې باید د دغه ویروس د وقایې او علاج لپاره کافي طبي مواد برابر کړي، څو له دغه ویروس څخه د لا زیاتو خلکو ژوند وساتل شي. د پاملرنې وړ ټکی دا دی چې روغتونونه او طبي مرکزونه باید د ناروغانو د چټک زیاتوالي لپاره چمتووالی ونیسي او د طبي کارکوونکو لپاره اړوندې روزنې دې پیاوړې شي، څو پر دغه ناروغۍ د اخته کېدو او له امله یې د مړه کېدو اندېښنې کم شي. دغه راز بېلابېلې خواوې باید د طبي کارکوونکو امنیت ساتلو ته لا زیاتې پاملرنې وکړي.

درېیم- د چین حکومت د دغه ویروس له رامنځ ته کېدو وروسته، سمدلاسه د رسنیو له لارې د دغه ویروس د وقایې معلومات او علمي پوهاوی عامو وگړو ته خپاره کړي. په دې مناسبت به عام وگړي په دې ښه وپوهېږي چې د ویروس د خپرېدو په وخت کې باید د خپل ځان ساتلو لپاره څه کار او تدبیر ونیسي. سم، رسمي او وختي خبرونه او معلومات د خلکو اندېښنې لرې کولای شي.

د ورځپاڼو، راډیوگانو، ټلوېزیونونو او ټولنیزو رسنیو په گډون، عامې خبري رسنۍ عامو وگړو ته د معلوماتو د شریکولو لازم وسایل دي. د دغو رسنیو له لارې عامو خلکو ته د ویروس د وقایې د سمو او علمي پوهو شریکول د حکومت او بېلابېلو ادارو مسولیت دی چې دا به له عامو خلکو سره لازمې مرستې وکړي.

څلورم- د چین حکومت د دغه ویروس د وقایې او کنټرول په برخه کې له نړیوالې ټولنې سره نږدې او ښې همکارۍ کوي. د دغه ویروس له رامنځ ته کېدو وروسته چین سمدلاسه د روغتیا له نړیوال سازمان سره اړوند معلومات شریک کړل او له ډېرو هېوادونو سره یې د دغه ویروس د وقایې او کنټرول گډ کاري میکانېزم جوړ کړ. د چین طبي ډلې په جلا جلا توگه د فبرورۍ په ۲۹مه او د مارچ په ۷مه ایران او عراق ته رسېدلې، څو د دغه ویروس د وقایې او علاج په برخه کې له دغو هېوادونو سره مرسته وکړي. دغه راز، چین دغو هېوادونو ته د ناروغانو د تشخیص اوتومات الو په گډون، طبي مواد او توکي هم برابر کړي دي.

ویروس د بشریت پر وړاندې گډ دښمن دی، نو نړیوالې همکارۍ لازمي دي. افغان حکومت به هم د چین په گډون، د بېلابېلو هېوادونو له تجربو څخه د دغه ویروس د وقایې او کنټرول او د ناروغانو د علاج په برخو کې ښې تجربې واخلي. د مختلفو هېوادونو اړوند طبي کارپوهان د انټرنېټي ناستو له لارې د نظریو تبادلې او د طبي کارونو گډه لارښوونه کولای شي. نړیواله ټولنه هم د افغانستان د حالاتو له مخې، د روغتیا نړیوال سازمان، سره صلیب ټولنې او سرې میاشتې ټولنې په چوکاټ کې د تدبیرونو د نیولو، د دغه ویروس د وقایې د لایحو د جوړولو، د وقایوي موادو او توکو د ویشلو او د معلوماتو شریکولو په برخو کې له افغانستان سره لا نږدې همکارۍ وکړي.

له عمومي لحاظه، نوی کرونا ویروس د بشریت گډ دښمن دی، یووالی او همکارۍ د دغه ویروس د وقایې او کنټرول لپاره ډېره غښتلې وسیله ده، بشریت دې د ساینس او علم په مټ بې علمه او ناسمو کړو وړو او دغه ویروس ته ماتې ورکړي، څو د بشریت د گډ برخلیک ټولنې د ابادۍ لپاره هڅې منظمې پر مخ ولاړې شي.

## شاهین: د طالب زندانیانو د خلاصون په اړه هېڅوک جعل کاري نه شي کولای

په داسې حال کې چې د افغان حکوت او طالبانو تر منځ د بین الافغاني خبرو د پیل لومړی شرط د طالب لوري د پنځو زرو او د حکومت د زر زندانیانو ازادول دي، داسې ښکاري چې دغه بهیر په پیلېدو دی.

اوس چې د دواړو اړخونو د بندیانو خوشې کېدو ته شېبې نږدې شوې، په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر ویلي چې د طالب زندانیانو د خلاصون په اړه هېڅوک جعل کاري نه شي کولای.

د یاد دفتر ویاند سهیل شاهین په خپله ټوېټر پاڼه لیکلي، چې خوشې کېدونکي زندانیان به د طالب پلاوي تر تصدیق وروسته دوی ته د منلو وړ وي.



هغه ویلي: «موږ امریکایي پلاوي ته د پنځو زرو کسانو مفصل لېست ورکړی چې هېڅوک جعل کاري پکې نه شي کولای. یو شرط مو دا دی چې دا کسان که په یوه دښته کې موږ ته را تسلیموي یا په زندانونو کې، زموږ د هیئت تر تصدیق وروسته به د منلو وړ وي. بل دا چې هغه کسان به وي چې موږ په لېست کې لیکلي دي.»

په ورته وخت کې رویټرز د افغان حکومت د ځینو سرچینو له قوله لیکلي، ولسمشر به د زرو طالب زندانیانو د خوشې کېدو په اړه فرمان ورکړي.

رویټرز ویلي چې ولسمشر به د هغو طالب زندانیانو د خوشې کېدو په اړه فرمان ورکړي چې عمر یې تر ۵۲ کلونو زیات وي.

بلخوا د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ټینگار کوي، چې د زندانیانو د خلاصون په برخه کې دې حق العبدي او حقوقي اړخونه هم په پام کې ونیول شي.

دغه راز ځینې پخواني طالب چارواکي هیله من دي، چې د بندیانو د تبادلې پروسه په سم ډول مخکې لاړه شي او په دې سره بین الافغاني خبرو ته لار هواره شي.

# د افغان سولې پر وړاندې ننګونې

لیکنه: ذاکر سهار

**وروستۍ برخه:**

**ایران او افغان سوله**

د ایران او افغان طالبانو اړیکې ستراتېژیکې نه؛ بلکې تکتیکي او لنډمهالې دي. په دې مانا چې ایران اوسمهال د طالبانو له ځینو ډلو څخه په دې موخه ملاتړ کوي، چې امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، افغانستان د اوبو په مدیریت او مهار کولو کې پاتې راشي، له مرکزي اسیا څخه انرژۍ سویلي اسیا ته د افغانستان له لارې انتقال نه شي او په ټوله کې افغانستان په سیمه کې د یو پیاوړي او پرمختللي هېواد په توګه رامنځ ته نه شي.

د ایران او طالبانو اړیکې ځکه تکتیکي دي چې ایران نه غواړي د طالبانو په څېر یوه سنۍ ډله چې له سعودي، پاکستان او عربي نړۍ سره نږدې اړیکې لري، په افغانستان کې ستراتېژیکې بریا ته ورسېږي. ایران په سیمه کې مذهبي جګړه او سیالي کوي او په افغانستان کې یې ستراتېژیکي اساس شیعه مذهبي مشران دي. په افغان سوله کې د ایران ګټې د نړیوالو ځواکونو تر وتلو متمرکزې دي او د سولې له ترون وروسته به په افغانستان کې په خپلو ستراتېژیکو اساسو پانګونه زیاته کړي.

**روسیه او افغان سوله**

روسیه هم لکه د ایران او چین په څېر په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو په حضور نیوکه لري. له بل لوري په افغانستان کې د داعش فعالیتونو له روسیې سره اندېښنه پیدا کړې او په سیمه کې یې د چین، ایران، پاکستان او روسیې نږدېوالي ته لار هواره کړې ده. د امریکا او طالبانو د مستقیمو خبرو له پیل څخه دمخه روسیه په دې هڅه کې وه چې د داعش په خلاف یوه سیمه ییزه اجماع رامنځ ته کړي. په همدې موخه یې له پاکستان سره اړیکې تر یو بریده ښې شوې. کله چې د ۲۰۱۸ ز کال د جولای په میاشت کې د طالبانو او امریکایانو مستقیمې خبرې پیل شوې، روسیې خپل ځان له دې خبرو څخه لرې ولید او کوښښ یې وکړ چې د افغان سولې د ځینو نورو بدیلو فارمټونو په پیلولو سره ځان د افغانستان د سولې د پروسې برخه وګرځوي. روسیه هم یو سوله ییز افغانستان چې د امریکایي او نړیوالو ځواکونو حضور پکې نه وي، د ځان په ګټه بولي، ولې د نړیوالو ځواکونو د ناڅاپي وتلو مخالفه ده، ځو افغانستان یوځل بیا د داخلي جګړو او ترهګرو په ځانګړې ډول د داعش ځاله ونه ګرځي.

**چین او افغان سوله**

سره له دې چې چین له پاکستان سره نږدې اړیکې لري، ولې بیا یې هم د طالبانو او امریکا له مستقیمو خبرو څخه اندېښنه لرله. اندېښنه یې دا وه چې امریکا او طالبان داسې یوې هوکړې ته ونه رسېږي چې له مخې یې طالبان په افغانستان کې د امریکا له پوځي اډو سره موافقه وکړي. چین دا هم نه غواړي چې امریکا دې پرته له یو سیاسي جوړجاړي خپل پوځونه له افغانستان څخه وباسي او د ځواک خلا دې رامنځ ته شي. چین په دې پوهېږي چې د امریکایي پوځیانو ناڅاپي وتل افغانستان یوځل بیا د کورنیو جګړو خواته وړي، چې په ترڅ کې به یې تروریستي ګروپونه په ځانګړې ډول د شرقي ترکستان غورځنګ خپل فعالیتونه په افغانستان کې پیل کړي او د چین سنګکیانګ ایالت به وګواښي. د ایغوریانو په مقابل کې د چین له جدیت څخه دا هم معلومېږي چې چین نه غواړي په افغانستان کې دې یو اسلام پاله افراطي نظام حضور ولري. له بل لوري د افغانستان امنیت او سوله د چین د اقتصادي پرمختګ لپاره حیاتي ارزښت لري. چین نه یوازې کولای شي چې د افغانستان د طبیعي منابعو په استخراج کې پانګونه وکړي؛ بلکې افغانستان د خپل جغرافیوي موقعیت له پلوه د چین د یو لارې او یو کمر مهم نوښت ته هم شامل دی. د چین او پاکستان اقتصادي دهلیز د تطبیق لپاره د افغانستان امنیت خورا مهم دی.

**د سولې پر وړاندې پرتې ننګونې**

**د ملي او داخلي اجماع نشتون**

سوله یوه ملي مسئله ده او باید له همدې زاویې ورسره برخورد وشي. اصلي او مثبته سوله هغه وخت راتلای شي چې د قضیې ټول لوري پکې ګډون ولري او د عدالت او مساواتو پر بنسټ د ټولنې د هرې برخې ګټې پکې خوندي پاتې شي. له بده مرغه اوسنی افغان حکومت تر دې دمه کوښښ کوي چې سوله انحصار کړي او غواړي چې د سولې په مذاکراتي ټیم کې یوازې د حکومت استازي شامل وي. دا رویه د دې سبب کېږي چې افغان سیاسي او قومي مشران د حکومت مخالفت کې واقع شي او یو حکومت او اپوزیسیون د سولې په اړه جلا دریځونه غوره کړي او داخلي اجماع رامنځ ته نه شي. پر دې سربېره چې نړیواله او سیمه ییزه اجماع پر دې پوه ده چې یو ټولشموله مذاکراتي ټیم باید له طالبانو سره خبرې پیل کړي.

**د طالبانو سخت دریځ**

تر دې دمه طالبانو نه ده منلې چې د افغان حکومت له استازو سره رسمي خبرې وکړي. د دوی دریځ دا دی چې افغان حکومت په رسمیت نه پېژني او یوازې به له افغان سیاسي او قومي مشرانو سره په بین الافغاني خبرو کې ګډون کوي چې افغان حکومت به یې برخه وال وي. نوموړی سخت دریځ هغه وخت ماتېدای شي که چېرته افغان حکومت ټول سیاسي او قومي مشران تر یو چتر لاندې راټول او یو ټولشموله مذاکراتي ټیم جوړ کړي. په داسې حالت کې طالبان بله هیڅ لار نه لري، مګر دا چې همدې ټولشموله مذاکراتي ټیم سره خبرې پیل کړي.

**د امریکا کورني اختلافات**

داسې ګومان کېږي چې د امریکا استخباراتي/ پوځي اداري او ملکي حکومت د افغان سولې په اړه اجماع او ګډ نظر نه لري. د امریکا ولسمشر ټرمپ لپاره افغان سوله د ټاکنیز کمپاین یوه لویه برخه ده او غواړي د امریکا له ټاکنو څخه دمخه د امریکا له ولس سره د افغان جګړې د ختمولو ژمنه پوره کړي. ولې د امریکا استخبارات/پوځیان دېته قایل نه دي چې په افغانستان کې خپله ماتې ومني. د امریکا د اسټبلشمنټ لپاره په افغانستان کې پوځي/استخباراتي اډې تر بل هرڅه ارزښت لري او که چېرته دې موخې ته نه رسېږي، نو د افغانستان په امنیت او سوله کې یې هیڅ ګټه نشته. دا حالت د اندېښنې وړ دی او کېدای شي د سولې پر پروسه منفي اغېز ولري.

**د ټرمپ فکټور**

ځینې شنونکي اندېښنه لري چې ګواکې ټرمپ کولای شي خپلو ګټو ته په کتو، په هره مرحله کې افغانستان د سولې له خبرو او یا له ترون څخه ووځي. نوموړي یو ځل مخکې هم د سولې خبرې ودرولې او په همدې ډول له ایران سره د امریکا له تر سره شوي ترون څخه هم ووت.

**د طالبانو کمزوري**

طالبان په دې پوهېږي چې دوی نه شي کولای د ټاکنو له لارې قدرت ته ورسېږي، نو پر همدې اساس به کوښښ کوي چې د سولې په خبرو کې د قدرت ډېره برخه تر لاسه کړي. دا له یو لوري د طالبانو کمزوري ښیي ولې له بل لوري دا یو ځواک هم دی. طالبان به له دې کمزورۍ څخه د یو ځواک په توګه کار اخلي. په ورته وخت کې د افغان حکومت او سیاسیونو چې په تېرو اتلسو کلونو کې یې کافي امکانات پیدا کړي، د ژر ټاکنو په تر سره کولو به زور اچوي. دا حالت د سولې د خبرو لپاره یو لویه ننګونه ده.

د سولې له دې فرصت څخه باید ګټه واخیستل شي. د سولې لپاره باید د طالبانو په ګډون، ټول افغان مشران له خپلو شخصي ګټو تېر او په رښتینې مانا یوې پایداره سولې ته کار وکړي. افغان حکومت باید له انحصار څخه لاس واخلي او ټول سیاسي مشران تر یوه چتر لاندې راټول کړي. طالبانو ته پکار ده چې په افغان ځواکونو خپل بریدونه ودروي. جګړه کې افغان طالبان، حکومت او ټول ملت بایلونکي دي.

**پای**

# د امریکا پر کړنو او پلانونو نیوکې؛

## حامد کرزی: امریکا په افغانستان کې د پیاوړي حکومت د جوړېدو مخه نیولې ده



د ټاکنیزو لانجو او دوو لوړو له تر سره کېدو وروسته، تازه داسې ګنګوسې راولاړې شوې چې امریکا په افغانستان کې د یوه پیاوړي حکومت د جوړېدو مخه نیسي. پخواني ولسمشر حامد کرزي ویلي، امریکا د ستونزو او کشمکشونو د حل لپاره پر وخت اقدام نه دی کړی او په دې توګه یې په لوی لاس په هېواد کې ناندریو او ټاکنیزو جنجالونو ته لمن وهلې ده. له دې سره جوخت برېټانیا هم ولسمشر غني ته د بریا مبارکي ورکړې ده او وایي، د افغانستان له نوي حکومت سره به له نږدې کار کوي.

وړمه ورځ په پلازمېنه کابل کې د لوړې دوه مراسم تر سره شول. اجرایه رییس او ولسمشر غني دواړو خپل پلویان رابللي وو او د ولسمشرانو په توګه یې لوړه وکړه. ډاکټر عبدالله عبدالله چې ځان یې ولسمشر بللی، خپل مرستیالان او اجرایه رییس هم معرفي کړل. دې مسئلې د عامو خلکو او سیاسیونو تر منځ اندېښنې راولاړې کړې دي. د دې کشمکشونو تر رامنځ ته کېدو وروسته، پخواني ولسمشر حامد کرزي ویلي چې امریکا په دې کشمکشونو او ناندریو کې ښکېله ده. د ده په خبره، د اوسني وضعیت د رامنځ ته کېدو ستر لامل د امریکا له تحقیره ډک چلند دی چې د افغانستان د خلکو پر وړاندې یې کوي. کرزي زیاته کړې: «اوس د افغانستان وضعیت د اندېښنې وړ دی، لامل یې هم د افغانستان د خلکو پر وړاندې د امریکا له سپکاوي او تحقیره ډک چلند دی.»

کرزي ویلي، امریکا په رښتیا په افغانستان کې د بحران په حل پسې نه ده او نه هم د ټاکنو په برخه کې له افغانانو سره رښتینې وه. هغه وایي چې د دې خبرې ښه ثبوت یې د تحلیف د مراسمو په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت اعلامیه ده. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي وو، چې دوی په افغانستان کې د موازي حکومتونو مخالفت کوي. پخوانی ولسمشر حامد کرزی وایي، که امریکا په رښتیا په افغانستان کې موازي حکومتونه نه غوښتی، نو د لوړې تر مراسمو وړاندې یې باید رامنځ ته شوي نانډرۍ ختمې کړې وای. پخوانی ولسمشر حامد کرزی پر امریکا نیوکه کوي چې په افغانستان کې د تفرقې او بېلولو سیاست پر مخ وړي او هڅه کوي چې دلته ستونزې او کشمکشونه اوږده کړي. دی وایي، که امریکا دلته د تفرقه نه غوښتی، نو پر وخت یې اقدام کولی شوای او دلته یې د تفرقې او ټاکنیزو کشمکشونو مخه نیولی شوای. ښاغلي کرزي ویلي چې په دې اړه یې خپلې اندېښنې په ځلونو له زلمي خلیلزاد او نورو امریکایي چارواکو سره شریکې کړې دي. د ده په خبره، په ځلونو یې امریکایي چارواکو ته ټینګار کړی چې ټاکنې باید د سولې پروسې ته زیان ونه رسوي او دلته د یوه قوي او ملي حکومت د جوړېدو سبب شي.

د پخواني ولسمشر په خبره: «ما د امریکا د نه رښتینولۍ، شفافیت نشتوالي او ناسمې کړنلارې په اړه په ځلونو له دوی سره خبرې کړې دي، خپلې اندېښنې مې شریکې کړې دي، ما ویلي چې دلته باید سوله تامین شي او د ټاکنو پروسه باید د پیاوړي حکومت د جوړېدو او ملي یووالي د ټینګېدو سبب شي.»

پخواني ولسمشر پر افغانانو هم غږ کړی چې په دې حساسو شرایطو کې سره یو لاس شي او په دې توګه د پردیو دسیسې خنثی کړي. ده ټینګار کړی چې افغانان دې د پردیو په دسیسو له یو بل نه بېلېږي او د یووالي لپاره دې کار وکړي.

بلخوا پرون برېټانیا هم ولسمشر غني ته مبارکي ورکړې ده. په کابل کې د برېټانیا سفارت په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي چې دوی د افغانستان له نوي حکومت ملاتړ کوي او دې ته ژمن دي چې د سولې په تامین، تاوتریخوالي کمولو او بشري حقونو په ساتنه کې به له افغان حکومت سره همکار وي. برېټانیا ولسمشر غني ته د نوې دندې مبارکي ورکړې او د بریا هیله یې څرګنده کړې ده.

## د روغتیا نړیوال سازمان: کرونا ویروس پر نړیوال ګواښ بدل شوی، باید پر وړاندې یې جدي اقدامات وشي

د روغتیا نړیوال سازمان ویلي، د کرونا ویروس د کنټرول لپاره جدي اقدامات کولی شي چې د دغه ویروس خپرېدل کابو کړي.

د یاد سازمان مشر دغه راز ویلي چې هېڅوک له دغه ویروس څخه په امن کې نه دي او اوسمهال پر یوه نړیوال ګواښ بدل شوی دی.

د دغه سازمان مشر ټېدروس اډهانوم ویلي، د کرونا ویروس د خپرېدو اوسنی چټک بهیر نړۍ له جدي ګواښ سره مخ کړې او اړینه ده چې پر وړاندې یې باید کوټلي ګامونه واخیستل شي.

د روغتیا نړیوال سازمان مشر دا څرګندونې نوموړي دغه راز ویلي چې که د یاد ویروس پر وړاندې هڅې همغږې او چټکې شي، نړۍ یې له ګواښ څخه په امن کېدای شي.

هغه ویلي: «د ټولو هېوادونو لپاره یو هدف دی، هغه دا چې د ویروس انتقال ودروئ او د خپرېدو مخه یې ونیسئ.»

داسې مهال کوي چې دغه ویروس د نړۍ په ډېریو هېوادونو کې په چټکۍ سره د خپرېدو په حال کې دی. په ورته وخت کې ایراني چارواکو ویلي چې د کرونا د خپرېدو له کبله په دغه هېواد کې د قربانیانو شمېر تر ۳۰۰ اوښتی او ډېر کسان نوي پرې اخته شوي دي.

د ایران د روغتیا وزارت ویاند کیانوش جهانپور په یوه خبري غونډه کې ویلي، چې همکارانو یې پر کرونا ویروس د اخته کېدو ۵۹۵ نوي پېښې تایید کړې او په دې سره په دغه هېواد کې د کرونا ټولې پېښې ۷۱۶۰ ته رسېدلې دي.

بلخوا په اروپا او په ځانګړې توګه ایټالیا چې د کرونا ویروس د خپرېدو په تاوده ډګر بدله شوې، لوېدیځ هېوادونه یې سخت اندېښمن کړي دي.

ایټالیا چې په اروپا کې د کرونا ویروس تر ټولو زیات ځپلی شوی هېواد دی، د یکشنبې په ورځ یې په شمال کې پراخې سیمې چې شاوخوا ۱۶ میلیونه وګړي لري، قرنطین کړې دي.

دغه راز د امریکا په متحده ایالتونو کې هم یاد ویروس په چټکۍ سره د خپرېدو په حال کې ده چې تر دې دمه یې له ۳۰ ډېر کسان وژلي او په زرګونو نور پرې اخته شوي دي.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### ۷
### میداس لمس به ځنګه جوړوو؟




تاسو دا هم ویلی شئ چې کله څوک د بل انسان ژوند ته ارزښت ورکوي، دوی اصلا له ځانه یو میراث هم پرېږدي. زما خسر کلایټون پورټر څه وخت مخکې مړ شو. زما مېرمن مارګریټ یې مشره لور وه. زه او مېرمن مې یې چې جنازې ته لاړو، ماګریټ د خپل ژوند په اړه وغږېده. کلایټون ښوونکی و او زرګونه ماشومان یې روزلي وو. خو مارګریټ وویل چې تر ټولو مهم شاګردان یې دا او د دې خویندې وې. کلایټون په دوی کې نه یوازې قوي اخلاقي بنسټ رامنځته کړی و، بلکې له خلکو سره مینه او د خلکو درناوی یې هم ورښودلی و. دا کار یې یوازې دوی ته په ښودلو او ور زده کولو نه و کړي، بلکې پر همدې اصولو یې ژوند هم ورسره کړی و.
مارګریټ چې خبرې ختمې کړې، ټولو راغلو خلکو ژړل. په کوټه کې زرګونه خلک راټول شوي وو چې ده ورته ښوونه کړې وه او د دوی په ژوند کې یې مثبت بدلون راوړی و. دا هغه میراث و چې هغه به پرې ویاړل او دا هغه میراث دی چې تاسو هم پرې ویاړلای شئ.

**پایله**

**په زرین قانون پسې ولاړ شئ!**

زه له تاسو دوې وروستۍ پوښتنې کوم:
لومړی دا چې تاسو څه ترلاسه کول غواړئ؟ په بله وینا، تاسو ځان ته کومې موخې ټاکلې دي؟ څه غواړئ چې کوم ځای ته ورسېږئ؟ تاسو څه ډول اغېز کول غواړئ؟ پر دې شیانو فکر ځکه ښه دی چې ستاسو ژوند ته د یوه لوري په ټاکلو کې مرسته درسره کوي.
دویمه پوښتنه دا ده چې د دغو موخو د ترلاسه کولو لپاره څه پلان لرئ؟ دا پوښتنه مهمه ده، ځکه دا طریقه درته ټاکي چې ژوند به ځنګه کوئ او دا اغېز هم دربانديې کوي چې مرګ به مو ځنګه وي.
زه فکر کوم انسان په دوو لارو یو شی ترلاسه کولای شي. یا به په سره زرو پسې ځئ، یا په زرین قانون پسې. زیاتره خلک به داسې وي چې په سرو زرو پسې تللي او داسې ښکاري چې ژوند څه ورکړي، هغه ټول یې ترلاسه کړي دي؛ خو ځینې وخت دا ښکارېدل هسې سراب وي او انسان تېرباسي. په( ۱۹۲۳ز) کې یو ډله د شیکاګو په ایجواټر هوټل کې سره مخ شوه. هغه وخت دوی د نړۍ ډېر قوي او شتمن خلک وو. څومره شتمن وو؟ دومره شتمن وو چې د امریکا د ټولې خزانې هومره پیسې یوازې له دوی سره وې. دوی د فابریکو خاوندان او سیاسي مشران وو. دوی په سرو زرو پسې ولاړل او سره زر یې وګټل. په لاندې لیست کې هغه خلک دي چې څوک وو او بیا څه شول.


- چارلیس شواب – د امریکا د اوسپنې د ستر خصوصي شرکت مشر – مفلس مړ شو.
- ارتور کټین – د غنمو لوی کاروباري – په پردي وطن کې دیواله (مفلس) مړ شو.
- ریچارډ ویټنی – د نیویارک د ونډو د بازار مشر – له سینګ سینګ زندانه چې راخلاص شو، مړ شو.
- البرټ فال – د امریکا د کابینې غړی –له زندانه په دې خاطر خوشې شو چې په کور کې مړ شي.
- جیس لایومور – د وال سټریټ لوی کاروباري – ځان وواژه.
- لیون فراسیر – د نړیوالو معاملو د بانک مشر – ځان وواژه
- ایور کریوګور – د نړۍ د ستر انحصار مشر – ځان وواژه (۱)

زیاتره خلک چې په سرو زرو پسې ځي، د فرصتونو د ترلاسه کولو لپاره د ژوند په ډېرو مهمو شیانو هم معامله کوي؛ خو وروسته یې بیا دا مادي لاسته راوړنې هم له ګوتو وزي. لنډمهاله بریا ښایي د هغو ډېرو خلکو نصیب شي چې شتمنۍ ته یې تر هر څه لومړی ارزښت ورکړی دی. تاسو که د هغوی د ژوند وروستیو کلو ته وګورئ، نو د ژوند کیفیت یې ښه ترې معلومولای شئ. بیا به یې ښه په اسانه وګورئ چې دا څوک دي، کلایټن پورټر او مایک ابرشوف دي او که ډېنیس کوزلوسکي او رابرټ ټروسیلي. **دوام لري...**

# افغانستان او سیمه ییزه همکاري

اکسوس کتاب پلورنځی

سیمه‌ییزه همکاري څېړند د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو وروسته، په اروپا کې د نړیوالې همکارۍ د یو ډول په بڼې رامنځ ته شوه. د وخت په تېرېدو د نړۍ د نورو سیمو هېوادونو له سیمه‌ییزې همکارۍ څخه په مختلفو برخو کې د دوه اړخیزو او څو اړخیزو همکاریو د یوې بېلګې په توګه ګټه اخیستل پیل کړل او د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې ځینو هېوادونو د دوه اړخیزو او څو اړخیزو اړیکو او همکاریو د پراختیا په موخه سیمه‌ییز سازمانونه رامنځ ته کړل. د سیمه‌ییزو سازمانونو اصلي موخه د غړو هېوادونو تر منځ د همکاریو پراختیا وه او ډېر تمرکز یې د غړو هېوادونو تر منځ د اقتصادي او اجتماعي همکاریو د پراختیا په اړه و.
د سړې جګړې پر مهال سیمه‌ییزه همکاري د شوروي او امریکا له سیالیو څخه اغېزمنه وه او د نړۍ هېوادونه ځینې له شوروي اتحاد او ځینې نور له امریکا سره ملګري وو، خو د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره زمینه او شرایط برابر شول او د نړیوال دوه قطبي نظام له پای ته رسېدو وروسته، د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا او پیاوړتیا لپاره نوي فرصتونه او امکانات رامنځ ته شول. د نړۍ د ډېرو هېوادونو لپاره د دې زمینه برابره شوه چې د ایډیالوژیکو ګټو او ارزښتونو پر ځای خپلو ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي او د خپلو ګټو د خوندیتوب او د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه په خپلواک ډول اقدامات وکړي. په لاتیني امریکا، افریقا، سوېل ختیځې اسیا، سوېلي اسیا او د درېیمې نړۍ په نورو وروسته پاتې سیمو کې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه هڅې پیل شوې، خو په دې سیمو کې سیمه‌ییزې همکارۍ په اروپا کې د سیمه‌ییزې همکارۍ له ډول او بڼې سره ډېر توپیر درلود. په افریقا کې سیمه‌ییزه همکاري د سوداګریزو اقتصادي ګټو او انګیزو پر ځای تر ډېره بریده امنیتي انګېزې درلودې، خو د وخت په تېرېدو د سیمه‌ییزې همکارۍ نوې بڼه رامنځ ته شوه. نوې سیمه‌ییزه همکاري ډېر اړخونه لري چې پر بنسټ یې په سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي برخو کې د هېوادونو تر منځ همکاري پراختیا پیدا کوي.
د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته، د نړیوالتوب پروسې د سیمه‌ییزې همکارۍ په پراختیا کې مهم او د پام وړ رول تر سره کړ، نړیوال کېدو او د اقتصاد او ازاد بازار پراختیا یو پر بل د هېوادونو تړاو او تکیه کول ډېر کړل، له همدې امله اوسمهال هیڅ یو هېواد د دې وړتیا نه لري چې خپل ملي اقتصاد په یوازې ځان مدیریت کړي، سیمه‌ییزه همکاري نه یوازې دا چې له نړیوالتوب سره ټکر نه لري، بلکې نړیوالتوب او سیمه‌ییزه همکاري له یو بل سره مرسته او یو بل پیاوړي کوي. افغانستان چې د اسیا په زړه کې موقعیت لري، په شمال کې یې د مرکزي اسیا هېوادونه، په ختیځ کې یې چین، په لوېدیځ کې یې ایران او په سوېل کې یې د سوېلي اسیا هېوادونه پاکستان او هند موقعیت لري. د افغانستان جیو ستراتیژیک موقعیت ته په پام، د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا کولای شي د افغانستان په اجتماعي، اقتصادي ودې او پرمختګ او د سولې او ثبات د ټینګښت په برخه کې مهم رول تر سره کړي. له همدې امله د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتېژۍ کې د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا ته ځانګړې ځای ورکول شوی و او د افغانستان حکومت د افغانستان په تړاو د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو کنفرانسونو (ریکا) د جوړېدو او د استانبول پروسې د پیل لپاره زمینه او شرایط برابرکړي وو. افغانستان د سیمې د سوداګریزو او ترانسپورټي لارو په څلورلارې کې قرار لري. د افغانستان جیو ستراتیژیک موقعیت ته په پام د سیمې له هېوادونو سره د سیمه‌ییزې همکارۍ له لارې د اړیکو او همکاریو پراختیا د افغانستان لپاره ځانګړې ستراتیژیک ارزښت او اهمیت لري. افغانستان د خپلو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو د حل لپاره اړدی چې د سیمې له هېوادونو سره همکاریو ته پراختیا ورکړي. له بل لوري له افغانستان سره مرسته او همکاري د سیمې د هېوادونو د امنیت او ثبات د ټینګښت او پرمختګ لپاره مهمه ګڼل کېږي.
مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.






## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Pakistan A Personal History | Imran | ۳۰۰ ؋ |
| ۲ | In The Line of Fire A Menoir | Pervez Musharraf | ۳۰۰ ؋ |
| ۳ | Daughter of the East an Autobiography | Benazir Bhutto | ۳۰۰ ؋ |
| ٤ | Facts are Facts | Wali Khan | ۲۳۰ ؋ |
| ۵ | پښتون قام یا نسل؟ | سعدالله جان برق | ۳۰۰ ؋ |
| ٦ | ژبه، قام او ادب | خادم حسین | ۱۰۰ ؋ |
| ۷ | د باچا خان ویناوې | سهیل خان | ۱۵۰ ؋ |
| ۸ | پښتني لید لوری | خان زمان کاکړ | ۱۸۰ ؋ |
| ۹ | انسان دوستي د ایم فل تحقیقي مقاله | محب وزیر | ۲۰۰ ؋ |
| ۱۰ | پښتني ښځې او د قام خدمت | سید وقار علي شاه کاکا خیل | ۱۵۰ ؋ |
| ۱۱ | باچاخان او خدايي خدمتګاري لومړی، دوهم، دریم او څلورم ټوک | خان عبدالولي خان | ۸۰۰؋ |
| ۱۲ | The Struggle & the Aftermath Vol:1 | Khan Abdul Wali Khan | ۳۵۰ ؋ |
| ۱۳ | زما ژوند او جدو جهد | عبدالغفار خان | ۲۰۰ ؋ |
| ۱٤ | تفسیر ایات الاحکام من القران جلد اول و دوم | محمد علی الصابونی | ٤۵۰ ؋ |
| ۱۵ | سیرت المصطفی لومړی او دوهم ټوک | محمدادریس/امتیاز | ۵۰۰ ؋ |
| ۱٦ | امداد الفتاوی ٦ جلده | اشرف علی تهانوی/زاهدالله شاه حقانی | ۱,۲۰۰ ؋ |
| ۱۷ | میزان الاعتدال فی نقد الرجال ٦ جلده | محمد برکات عمار ریحاوی | ۱,۸۰۰ ؋ |
| ۱۸ | تبیین الحایق ۷ جلده | احمد عزو عنایة | ۱,۸۰۰ ؋ |
| ۱۹ | الفقه الحنفی فی ثوبه الجدید ۵ جلده | عبدالحمید محمود طهماز | ۱,۰۰۰ ؋ |
| ۲۰ | کتاب الاثار ۲ جلد | احمد عیسی المعصراوی | ۷۰۰ ؋ |
| ۲۱ | قصص النبیین | مطیع الله | ۱۳۰ ؋ |
| ۲۲ | جنتي زیور | اشرف علی تهانوی/فاروق غلجی | ۲۰۰ ؋ |
| ۲۳ | فیض الباری علی صحیح البخاری ٦ جلده | سید محمد | ۱,۵۰۰ ؋ |
| ۲٤ | رهایی از افسردگی | محمد صفا فرزه یی | ۱۰۰ ؋ |
| ۲۵ | افغان ها تمدن سازان اینده | هدایت الله ذاهب | ۱۸۰ ؋ |
| ۲٦ | نحوه اجرالات محاکم ابتدائیه | قضاوتیار اول خان زاهدی | ۱۷۰ ؋ |
| ۲۷ | حقوق‌مالی | عبداللطیف رحمانی | ۲۵۰ ؋ |
| ۲۸ | سیاست هویتی و مدنیته در دو دهه اخیر در افغانستان | امان الله اسدیار | ۱۲۰ ؋ |
| ۲۹ | خبرې مرغلرې د حکیمانه ویناوو غورچاڼ | روح الله وسیم | ۸۰ ؋ |
| ۳۰ | افغانستان او سیمه ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې | محمد سرور احمدزی | ۷۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۳۰ |
| € | ۸۵,۷۰ |
| Rp. | ٤۸۳ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439



لیکنه: جاوید کوټوال

# کرونا؛
# لويه ازموينه او ستره بريا

د کرونا د نوي ډول ويروس اوازه د تېر ميلادي کال په وروستيو کې د چين له ووهان ښاره خپره شوه. تر يوڅه وخته ياده ناروغي معمولي و انګېرل شوه، خو چې له يوه انسان نه بل ته يې د انتقال لارې ساده او اسانه وه، په خلکو او چين حکومت کې يې وېره پيدا کړه. همدا لاملونه وو چې په لومړيو ورځو کې يې په بې سارې ډول خلک ناروغان کړل او له چين ووته. جاپان او نورو ګاونډيو هېوادونو ته هم يې سرايت وکړ.

د کرونا چټکه خپرېدنه د لوېديځو هېوادونو په مطبوعاتو کې د سر موضوع شوه، چې د نوموړي ويروس وېره يې نړيواله کړه. همدا وو چې ځينو هېوادونو د خپلو اتباعو د مصؤنيت په موخه له ووهان او چين څخه خپل اتباع وايستل. ځينو لا دا هم وکړل چې خپلې هوايي لارې يې چين ته بندې کړې.

شاوخوا يوه نيمه مياشت چين او کرونا د نړيوالو د توجه په محراق کې وو او همدا راز په نورو هېوادونو کې د دغه ويروس د پيدا کېدو نوي خپرېدل او په اړه يې شکمنېدل هم په رسنيو کې غوره سوژې وې.

دا چې ويروس د کرونا نوى ډول و، نو فکر کېده چې په چين غونډې لوی او پُر نفوسه هېواد کې به ډېر خلک ناروغ او له منځه يوسي او دا اندېښنې د فبرورۍ په پيل کې هغه وخت اوج ته ورسېدې کله چې د يادې مياشتې په لومړيو کې د ناروغانو ورځنی شمېر زرګونو ته ورسېد.

دا موده د چين لپاره د ازمېښت تر ټولو سخته هغه وه. ټول سيال او ملګري هېوادونه يې وړتيا ته متوجه وو. دا چې ويروس د چين له محدودې ووت، نو په اړه يې څرګندونې هم څه بدلې او نا محدودې شوې. د فبرورۍ له دويمې لسيزې وروسته، نړيوال خبرونه او غبرګونونه د چين په اړه بدل شول او داسې وويل شول چې د نړۍ په نورو هېوادونو کې بايد د چين له تجاربو ګټه واخيستل شي.

د مارچ په لومړيو او تر اوسمهاله د کرونا په اړه د خبرونو سناريو تقريباً ټوله بدله شوه، ځکه دغه ويروس په ځينو هېوادونو لکه ايټاليا، ايران، جنوبي کوريا او جاپان کې په بې سارې ډول خپور شو.

د راپورونو له مخې، تر اوسمهاله په ټوله نړۍ کې شاوخوا ۴۰۷۲ کسان د دې ويروس له امله وژل شوي. له دې ډلې ۳۱۳٦ په چين (۳،۸۸٪ د ټولو ناروغانو)، ۴٦۳ په ايټاليا (۵،۰۵٪ د ټولو ناروغانو)، ۲۹۱ په ايران (۳،٦۱٪ د ټولو ناروغانو)، ۵۴ په جنوبي کوريا (۰.۱۳٪ د ټولو ناروغانو) او ۱٦ په جاپان (۱،۳۲٪ د ټولو ناروغانو) کې مړه شوي دي.

په پورته ارقامو کې تر ننه ۸۰۹۲۴ کسان په چين کې د نوي کرونا ويروس له امله ناروغان شوي، چې له ډلې يې ۵۹۹۸۲ کسان روغ شوي دي. دا شمېره اوسمهال د فيصدۍ له مخې په نړۍ کې تر ټولو نورو هغو هېوادونو چې ناروغان پکې زيات دي، د پام وړ ډېره ده.

دغه پرمختګ ته په کتو چې په چين کې د نوي کرونا ويروس ۷۴٪ مريضان روغ شوي، د دغه هېواد چارواکي او د کارخونو مسوولين ډېر خوښ دي، تر دې چې تېره ورځ د نوموړي هېواد ولسمشر هغه سيمې (ووهان) ته چې د کرونا ويروس د پيدا کېدو اصلي سيمه بلل کيږي، سفر وکړ او د کرونا ويروس د وقايې او کنټرول او د خلکو د ژوند د تامين په اړه يې معلومات تر لاسه کړل. له هغوی يې مننه وکړه او لا يې وهڅول. د ښاغلي شي سفر په چينايي رسنيو او خلکو کې دا انګېزه پيدا او پياوړې کړه چې ياد هېواد د نوي کرونا ويروس پر وړاندې بريا خپله کړې ده او خلک به ډېر ژر وکولای شي چې خپل عادي ژوند پيل کړي.

مونږ له چين څه زده کړو؟

لکه چې پورته مو يادونه وکړه، په لومړيو کې داسې انګېرل کېده چې د نوي کرونا ويروس به د چين پُر نفوسه هېواد ډېر زيات وځپي، ځکه په اړه يې پوهاى ډېر کم و او دغه راز د درملنې لپاره واکسين يا کوم بل درمل نه و؛ خو دا چې د هېواد په کچه انسجام او د ناروغۍ پر وړاندې ملي غبرګون ونښودل شو، همدا وو چې په دومره لنډه موده کې يې مخه ونيول شوه.

دا چې مونږ افغانان هم له دغې ناوړه پديدې سره مخ يو، نو د چين د خلکو کار مونږ ته يوه ښه نمونه ده. مونږ ته هم ډېره اړينه ده چې د هغوی په شان له استقامت او متانت څخه کار واخلو او د دغه ملي مسئلې پر وړاندې د دوی په شان ودرېږو او د اړتيا په صورت کې يې د تجربو او همکاريو غوښتنه وکړو.

## راپورونه: له افغانستانه د امريکايي ځواکونو د وتلو لړۍ پيل شوې ده

امريکايي ځواکونو ويلي چې له طالبانو سره د شوي تړون او له افغان حکومت سره د ګډې اعلاميې په رڼا کې يې د خپلو ځواکونو کمولو لړۍ پيل کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې د روان لمريز کال د کب په ۱۰مه په قطر کې د امريکا او طالبانو تر منځ د لاسليک شوي تړون له مخې، امريکا په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر کموي.

په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو وياند سوني ليګېټ ويلي چې د دغه تړون له مخې يې له افغانستانه د ځواکونو د کمولو لړۍ پيل کړې ده. خو هغه دا نه دي ويلي چې دا لړۍ يې څه وخت پيل کړې ده.

ليګېټ دغه راز زياته کړې چې د سرتېرو کمول مشروط دي چې په ترڅ کې به يې په ۱۳۵ ورځو کې د دوی د سرتېرو شمېر ۸٦۰۰ ته راټيټ شي.



د نوموړي دا څرګندونې داسې مهال دي چې ويل کېږي اوسمهال په افغانستان کې شاوخوا ۱۳زره امريکايي سرتېري مېشت دي.

د امريکايي ځواکونو وياند ويلي: «امريکايي ځواکونه د خپلو هدفونو تر لاسه کولو لپاره ټول امکانات او صلاحيتونه په واک کې لري چې پکې د داعش او القاعدې ډلو خلاف د ترهګرۍ ضد عمليات او د افغانستان د امنيتي او دفاعي ځواکونو ملاتړ شامل دي.»

د هغه په خبره، امريکا به له افغانستانه د خپلو سرتېرو له ايستلو سره سره د خپلو ټولو موخو تر لاسه کولو لپاره ټول پوځي وسايل او نور تجهيزات پر ځای پرېږدي.

په ورته وخت کې د هلمند سيمه ييزو چارواکو ويلي چې له لښکرګاه ښار څخه امريکايي ځواکونه وتلي او په دغه ولايت کې مېشتې شوراب اډې ته لېږدول شوي دي.

د يادونې ده چې پر امريکا د سپټمبر د يوولسمې له بريدونو وروسته، دغه هېواد د ۲۰۰۱ ز کال په اکتوبر مياشت کې په افغانستان کې د القاعدې پر ضد عمليات پيل کړل او خپل سرتېري يې را ولېږل.

په لومړيو څو کلونو کې په افغانستان کې شاوخوا سل زره امريکايي سرتېري مېشت وو، خو تر ۲۰۱۰ ز کال وروسته يې د کمولو لړۍ پيل شوه.

د راپورونو له مخې، په تېرو ۱۹ کلونو کې په افغانستان کې شاوخوا ۲٤۰۰ امريکايي سرتېري وژل شوي او زرګونه نور ټپيان شوي دي.

## عام خلک: د چمن- سپين بولدک لارې بندېدو له ستونزو سره مخ کړي يو

د چمن- سپين بولدک لار له يوې اونۍ وروسته لاهم تړلې چې له امله يې دواړو غاړو ته زرګونه افغانان بند پاتې دي او دوه اړخيزه سوداګري يې هم اغېزمنه کړې ده.

تر دې وړاندې پاکستاني لوري ويلي وو چې دغه لار د کرونا ويروس د خپرېدو له وېرې د يوې اونۍ لپاره تړي، خو دغه هېواد وروسته بيا اعلان وکړ چې دا لاره به يوه اونۍ نوره هم تړلې وي.

په سپين بولدک ولسوالۍ کې د سرحدي ځواکونو کمېسار شريف غرزي ويلي، د پاکستاني لوري له اعلان سره سم دغه لار بايد ورمه ورځ پرانيستل شوې واى، خو لاهم تړلې ده.

هغه ويلي: «تېره اونۍ پاکستاني لوري اعلان کړی و چې دغه لار د يوې اونۍ لپاره د کرونا ويروس د خپرېدو له وېرې تړي، دغه موده پوره شوې، خو بيا هم لار تړلې ده.»



د ده په خبره، پاکستاني لوري تر اوسه دا نه دي ويلي چې دغه لار يې د دويمې اونۍ لپاره ولې تړلې ده.

نوموړي زياته کړې، د لارې د تړل کېدو له امله دواړو غاړو ته زرګونه افغانان بند پاتې دي او سوداګري اغېزمنه شوې ده.

غرزي ويلي، په زرګونو افغانان چې د درملنې او د خپلو دوستانو د ليدلو لپاره پاکستان ته تللي وو او اوس غواړي بېرته خپل هېواد ته راشي، د کرښې هغې غاړې ته بند پاتې دي.

د ده په خبره، ډېر افغانان چې لويه برخه يې ناروغان دي او غواړي د درملنې لپاره پاکستان ته لاړ شي، د لارې خلاصېدو په تمه دي او له جدي ستونزو سره مخ دي.

د کرښې هغې غاړې ته د زرګونو افغانانو له ډلې څو تنو يې د ټليفون پر کرښه پژواک خبري اژانس ته ويلي چې د درملنې لپاره راغلي وو، خو اوس چې بېرته ځي، نو اجازه نه ورکول کېږي.

د نور محمد په نوم د کندهار يوه اوسېدونکي چې درې اونۍ مخکې يې خپل ناروغ پلار کراچۍ ته د درملنې لپاره وړی و، د بېرته راتګ پر مهال په چمن ښارګوټي کې بند پاتې دی، ويلي: «په چمن کې زرګونه افغانان چې ماشومان، ښځې او سپين ږيري ورسره بند پاتې دي او خپل هېواد ته د تلو اجازه نه ورکول کېږي، له اکثرو سره پيسې خلاصې شوې، ډېر يې د اوسېدو ځای نه لري او له سختو ستونزو مخ دي.»

مسير ورځپانه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
ایډیټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
WAYGAL PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۱مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ۱۱مه | ۵۲۸مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۱ | ۱۵ | ۱۱ | ۱۹ | ۱۱ |
| ٤ | ۱ | ۳ | ٤ | ۱۱ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۱ | لمر ختل ۰٦:۱٤ | ماسپښین ۱۲:۰۵ | مازیګر ۰۳:۲٤ | ماښام ۰۵:۵۵ | ماخوستن ۰۷:۱۹

نړۍ



# د روغتیا نړیوال سازمان: کرونا ویروس پر نړیوال ګواښ بدل شوی، باید پر وړاندې یې جدي اقدامات وشي

۳

## ملګري ملتونه: ایران دې په اټومي سیمو کې زموږ څارونکو ته د څېړنې اجازه راکړي



د ملګرو ملتونو د اټومي انرژۍ د څار ادارې له ایرانه غوښتي چې په دریو ممکنه اټومي سیمو کې دې د یاد سازمان څېړنو ته اجازه ورکړي.

د یادې ادارې رییس رافاییل ګروسي، په ویانا کې د دې ادارې مشرتابه پلاوي ته ویلي چې ایران باید سمدستي په بشپړه توګه له دې ادارې سره همکاري وکړي.

نوموړي دغه راز زیاته کړې، د ایران په همکارۍ باید د دې ادارې پلټونکو ته هغو سیمو ته د ورتګ او پکې د څېړنې بشپړه اجازه ورکړل شي، چې د ملګرو ملتونو د اټومي انرژۍ د څار ادارې په نښه کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې ګروسي د فبرورۍ په میاشت کې ویلي وو، تهران د دریو هغو سیمو په اړه د دوی پوښتنو ته له ځواب ویلو ډډه کړې چې ګومان کېږي په ۲۰۱۵ ز کال کې د ایران او نړیوالو ځواکمنو هېوادونو تر منځ تر تړون مخکې پکې اټومي مواد ځای پر ځای شوي.

رافاییل ګروسي ویلي، د ایران له همکارۍ پرته به د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې ته ستونزمنه وي چې دا په ډاګه کړي چې ایران د خپل اټومي پروګرام په اړه رښتینې دی او که نه.

ګروسي په ویانا کې خبریالانو ته ویلي، دا موضوع ډېره جدي ده او په پوره بې طرفۍ او جدیت سره به یې وڅېړي.

## سعودي عربستان: راتلونکې میاشت به په بې ساري ډول د تېلو په تولید کې ډېروالی راولو

سعودي عربستان اعلان کړی چې راتلونکې میاشت به د خامو تېلو د تولید اندازه د ورځې ۱۲.۳ میلیونو بېرلو ته ورسوي.

د سعودي حکومتي شرکت ارامکو تېره ورځ دغه اعلان کړی چې په دې کچه تولید یو ریکارډ بلل کېږي.

سعودي وروسته له هغې دغه اقدام کوي چې روسیې د خامو تېلو د تولید په کمولو کې له همکارۍ ډډه وکړه.

له دغه اعلان وروسته په مارکېټونو کې د خامو تېلو بیې ۲۵ سلنې ټېټې شوې او دا په ۱۹۹۱ ز کال کې د خلیج له جګړې وروسته لومړی ځل دی چې د تېلو بیې دومره ټیټېږي.

د سعودي دولتي شرکت ارامکو ویلي چې په دغه کار سره به د سعودي د تېلو په تولید کې د ورځې ۳۰۰ زره بېرله نور هم اضافه شي. ارامکو په یوه اعلامیه کې ویلي: «شرکت له خپلو پېرودونکو سره موافقه کړې چې دومره تېل به ورته تولیدوي او دا به د ۲۰۲۰ ز کال د اپرېل له لومړۍ نېټې پیلېږي.» یاد شرکت دغه راز ویلي چې دا کار به په اوږدمهال کې مثبتې اقتصادي اغېزې ولري.

د سعودي عربستان په دغه کار سره د ونډو په نړیوالو بازارونو کې هم بیې راغورځېدلې دي او د ارامکو ونډه شاوخوا ۱۰ سلنه راپرېوتې ده.

## پامپیو: امریکا با ایجاد حکومت موازی و با استفاده از زور برای حل اختلافات سیاسی، مخالف است



مایک پامپیو، وزیر خارجه ایالات متحده امریکا در صفحهٔ تویترش نگاشته‌است که امریکا با ایجاد حکومت موازی و با استفاده از زور برای حل اختلافات سیاسی، مخالف است.

درهمین حال در یک اعلامیهٔ وزارت خارجه امریکا با تأکید بر حمایت واشنگتن از افغانستان متحد و دارای حاکمیت ملی، آمده‌است: «اولویت‌دهی به حکومت همه شمول برای صلح، مهم است.»

این گفته‌ها درحالی ابراز می‌شوند که هم‌زمان با مراسم تحلیف اشرف غنی به عنوان رئیس‌جمهور، عبدالله عبدالله نیز به حیث آن چه که او رئیس‌جمهور حکومت همه شمول می گوید، سوگند یاد کرد.


از سوی دیگر، زلمی خلیل‌زاد، نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان از رئیس‌جمهور غنی و عبدالله خواسته تا دربارهٔ یک حکومت جامع و فراگیر، توافق کنند. او همچنان از آماده‌گی رئیس‌جمهور غنی برای صادر کردن فرمان دربارهٔ تبادله شمار قابل ملاحظهٔ زندانیان و تشکیل یک هیئت گفتگوکنندهٔ ملی، استقبال کرده‌است و گفته که این کار منجر به گفتگوهای میان افغانان خواهد شد.

روز دوشنبه، رئیس‌جمهور غنی برای دومین‌بار در مراسمی که در ریاست‌جمهوری برگزار شده بود، به‌حیث رئیس جمهور، سوگند یاد کرد.

در این مراسم، خلیل‌زاد، راس ویلسن، سرپرست سفارت امریکا در کابل، جنرال اسکات میلر، فرمانده نیروهای امریکایی و ناتو در افغانستان، سفیران کانادا، اتحادیه اروپا، دنمارک، آستر‌الیا، ناروی و آلمان نیز شرکت کردند.

ژوند

## د خوب تنظیمونکې غده او هورمونونه



د پینیل په نوم غده(Pineal gland) په اعصابو کې یوه وړه او کوچنۍ غده ده چې وزن یې تقریباً له ۱۰۰-۱۵۰ ملي ګرامه شاوخوا دی او اساسي دنده یې د خوب منظمول او د ملاتونین (Melatonin) هورمون ترشح کول دي. ملاتونین هغه هورمون دی چې د خوب په تنظیم او سموالي کې اساسي رول لري. د پینیل غده په تیاره کې ښه فعالیت کوي او په زیاته اندازه د ملاتونین هورمون تولیدوي. خو په روښنایۍ او د ورځې په اوږدو کې بیا د دې غدې فعالیت کمېږي او ډېر کم ملاتونین تولیدوي او یا یې هیڅ نه تولیدوي. کله چې شپه تیاره شي، د دې غدې فعالیت چټک کېږي او په زیاته پیمانه ملاتونین هورمون تولیدوي چې ورسره انسان د خوب احساس کوي. د پینیل له غدې څخه د خوب د هورمون ترشح د شپې له ۹ بجو پیلېږي او د سهار له ۲ تر ۴ بجو خپلې لوړې کچې ته رسیږي. دغه هورمون بیا د سهار له اوو بجو مخکې بیرته کمېږي.

## د ژوند چارې مو سمې تنظیم کړئ



ډېر کسان شته چې د ژوند د جوړولو لپاره پوره هڅه کوي، خو هېڅ ځای ته نه رسېږي، ځکه دوی د ژوند چارې سمې نه تنظیموي او د سبا غم ور سره نه وي. راځئ دلته یوه جوړه په نظر کې ونیسئ، چې نوی ژوند یې پیل کړی او د ځان لپاره یې یو لوی او مجلل کور په اجاره نیولی. دوی مجبور دي چې هره میاشت له خپلې تنخوا څخه د پام وړ پیسې د کور څښتن ته ورکړي. یو کال تېرېږي، اجاره پورته ځي، خو د دوی په حقوقو کې کوم بدلون نه راځي. له دې سره سره چې دوی په هماغه کچه تنخوا اخلي، خو بیا یې هم زړه نه غواړي چې له دې کوره ووځي او له دې څخه په واړه کور کې ژوند وکړي. ورو ورو یې له کور څخه کورنۍ جوړېږي، ماشومان یې پیدا کېږي او دوی مجبور دي چې د خپلو اولادونو د ورځنې ژوند مصارف هم پوره کړي. پنځه کاله وروسته هر څه مخ په ځوړ ځي، ماشومان یې زیاتېږي، د کور اجاره اضافه کېږي او په دې ډول یې ژوند ورسره یاري نه کوي او سختېږي. دا دومره موده یې چې زحمت ایستلی، کوم ځانګړی ځای نه ورته نیسي. ولې؟ دا ځکه چې له دوی سره د راتلونکې غم نه و.



ماستر ډبټ کارت
د عزیزي بانک ماستر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank